اوونیزه
پرمختیا
د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت
هیله بخښوونکې خبرونه؛
۱۳۰ مه ګڼه ● پنجشنبه ● د غبرګولي ۲۹ مه ● د ۱۳۹۹ کال

# د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د پلان اوپالیسی او سر شمیرنې رییسان او دپروګرامونو سلاکار معرفي شول



۷

## په پکتیکا کې د څه باندې ۵.۲ میلیونه افغانیو په لګښت د اوبو رسولو یوه لمریزه شبکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه




۳

## په پکتیا ولایت کې د اوبو رسولو دوې شبکې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



٦

## په ننګرهار کې د ۱۲.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت دیوه استنادي دیوال هوکړه لیک لاسلیک شو



۷

## په غور ولایت کې د ۳.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه بشپړه شوه




۵

## په کندهار کې د ۴ اعشاریه ۳۵ کیلو واټه لمریزې برېښنا د تولید شبکه جوړېږي



۱۳۹۹/ غبرګولی/ ۲۴

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د کندهار ولایت تخته پل ولسوالۍ کې د لمریزې برېښنا یوه شبکه د سرې غونډۍ پراختیایي شورا لپاره جوړېږي، چې له امله به یې ۴۸ کورنۍ او ۳ مسجدونه روښانه شي. پر دې شبکه ۱ میلیون او ۷۹۹ زره افغانۍ لګښت راغلی، چې لس سلنه د کلیوالي خلکو ونډه هم پکې شامله ده. په دې شبکه کې ۲۲ تختې ۲۵۰ واټه سولري هېنداري او ۲۲۰ امپیره ۱٦ بطریو او پاورهاوس پر نصب سربېره ۱۴۳۵ متره تار غځېدلی دی. د دې پروژې د جوړولو په ترځ کې به ماهرو او غېرو ماهرو کارکوونکیو ته ۲۸۹ ورځې رامنځته شي.

## تېره اونۍ په هیواد کې دوه ښوونځي جوړ شول او په ٦ ولایتونو کې د۷ نورو ښوونځیو د جوړېدو چارې بشپړېدو ته نږدې دي

۲۹/ غبرګولی/ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت دولسي تړون ملي پروګرام د اقرا پروژې تر چتر لاندې تېره اونۍ دکابل ولایت په کلکان او میربچه کوټ ولسوالیو کې دوه ښوونځي جوړ اود نورو ۷ ښوونځیو دجوړېدو چارې د کندهار ولایت په ژېړۍ او میوند، دننګرهار ولایت په کوز کونړ، دکابل ولایت په ګلدرې، لوګرولایت په برکي برک، دکندز ولایت په خان اباد او دپکتیکا ولایت په سروبي ولسوالیو کې بشپړېدو ته نږدې شوي دي او ژر به ګټې اخستنې ته وړاندې شي.

دا ښوونځي ۱۲، ۱۰.۸ یا ٦ ټولګي، تشنابونه او دڅښاک داوبو څاه ګانې لري او د جوړېدو پر مهال یې د تخنیکي اوغیر تخنیکي کارګرو لپاره ۱۷ زره او ۵۰۰ کاري ورځې را منځته کېږي.

باید ووایو چې جوړو شویو ښوونځیو د۴۳۰ زده کوونکو لپاره دزده کړې وړ چاپېریال را منځته کړی او جوړېدونکي ښوونځي به ۱۸۳۴ زده کوونکو ته د زده کړې وړ چاپېریال را منځته کړي.









## په بغلان کې د ۲.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۵۵ متره محافظوي دیوال بشپړ شو



۱۳۹۹/غبرګولی/ ۲۲

د کلیو د بیارغونې او پرختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د ځارنې، ساتنې او ودانۍ له پاره د پراختیایي نغدي وجهي پروګرام (MCCG) تر سیوري لاندې د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ اړوند د سایي پایین کلي د پراختیایي شورا لخوا د یوه محافظوي دیوال بشپړ شو چې په جوړېدو سره یې د۳۱۳ کورنیو شاوخوا ۳۵۰ جریبه کرنیزې ځمکې او بڼونه د سیلاوونو له ګواښ نه ژغورل کېږي. دغه محافظوي دیوال ۱۵۵ متره اوږدوالی او ۲ متره لوړوالی لري چې د پروژې د کار په بهیر کې فني اوغیر فني کاریګرو ته ۴۴۹۷ کاري ورځې رامنځته شویدي. نوموړی د یوال چې ۲ میلیونه او ٥٦٦ زره افغانۍ پرې لګښت راغلی.

## په بلخ ولایت کې د نږدې ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د کانال پروژه بشپړه شوه



۲۳ / غبرگولی / ۱۳۹۹

په بلخ ولایت کې د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروگرام له لوري د اوبو لګولو د کانال پروژه چې نږدې ۲ میلیون افغانۍ ارزښت لري بشپړه شوه.

د دغې پروژې په ترڅ کې د دغه ولایت د نهر شاهي ولسوالي په کمپیرک کلي کې د ۱۸۳ مترو په اوږدوالي د اوبو لګولو کانال جوړ شو.
د یادې پروژې د تطبیق پر مهال چې د کرنې د پرېوال پرمختیایي صندوق له لوري تمویل شوې ۱۳۴۱ کاري ورځې رامنځته شوې او د سیمې ۱۴٦۴ اوسیدونکي له دغې پروژې ګټه پورته کوي. د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې له لارې د سیمې ګڼ شمیر کرنیزه ځمکه د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راغلې ده.

## په پکتیکا کې د څه باندې ۵.۲ میلیونه افغانیو په لګښت د اوبو رسولو یوه لمریزه شبکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

۲۲ غبرگولی ۱۳۹۹

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروګرام له لوري ؛ د پکتیکا ولایت د یوسف‌خېلو ولسوالي په «بوخان خېلو» کلي کې د څه باندې ۵.۲ میلیونه افغانیو په لګښت سره، د اوبو رسولو یوه لمریزه شبکه جوړه او د خلکو ګټنې ته وسپارل شوه.
په دغه پروژه کې د ۱۰۳ مترو په ژوروالي سره د یوې څاه کیندل، د ۵۰ متره مکعب په ظرفیت سره د یوې ذخیرې جوړول، د ۵٦۷۱ مترو په اوږدوالي د پایپونو د شبکې غځول، د ۳٦ لمریزو تختو نصبول او په کورونو کې د ۱۱۰ مېترونو او ۱۱۲ نلکو نصبول شامل وو.
ددغې پروژې په تکمیلېدو سره د شاوخوا ۳۱۳ کورنیو او ۲۹۵ ښځینه زده‌کوونکو لپاره د ښښلو پاکې اوبه برابرې شوې. او د اړوندې سیمې د ځایي خلکو لپاره یې شاوخوا ۲۴۰ کاري ورځې هم رامنځته کړې.



## په مې میاشت کې د ۳۲۲ کلیو ۹۱۰۰۰ کسانو ته د کرونا پر اړه پوهاوی ورکړل شوی



۲۲/ غبرگولی/ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت، په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ‌الصحې د پروګرام حفظ‌الصحوي کارکوونکو، د روان میلادي کال په مې میاشت کې د هېواد د اتو ولایتونو لکه (بادغیس، بامیان، دایکنډي، هلمند، کندهار، پکتیکا، بدخشان او ننګرهار) په ۳۲۲ کلیو کې څه باندې ۹۱،۰۰۰ کسانو ته د کرونا وژونکي ویروس څخه د ځان ساتنې په اړه د عامه پوهاوي ترینګونه تر سره شوي دي.





## په ننګرهار کې د ۱۱ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه ګبیون ډوله دیوال چارې پای ته نږدې شوي

۲۴/ غبرګولی/ ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییزې پراختیا Regional Program له لوري د ننګرهار کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست او د کوټ ولسوالی د لاغرجوي سیمې د اشرف خیلو پرمختیایي شورا لخوا د کوټ ولسوالی د لاغرجوي په سیمه کې د ۱۱ میلونه افغانیو په ارزښت د ۷۵۰ متره ګبیون استنادی دیوا ل د جوړیدو چارې ۹۰ سلنه بشپړې شوي.

دا دیوال به په نږدې راتلونکې کې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## په تخار کې پر ۸٦ اړو کورنیو د ۱۳٦ زره افغانیو په ارزښت خوراکي او ناخوراکي توکي وویشل شول

۲٦/ غبرګولی/ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د غلو دانو له بانکونو

د تخار ولایت د مرکز د ګوره او مسجد ابوذر غفاري پرمختیایي شوراګانو پر ۸٦ اړو کورنیو د ۱۳٦ زره افغانیو په ارزښت خوراکي او ناخوراکي توکي وویشل شول.

د مرستې د کلیوالو او د ټولنیز ګډون لپاره مالي وجهي پروګرام (SIG) له لوري وویشل شوې چې غوړي، وریجې، بوره، چای او صابون په کې شامل وو.



## په کندهار کې د ۵۳۰ مترو په اوږدوالي داوبو کانال جوړیږي

۲۵ / غبرګولی / ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د کندهار ولایت د ډنډ ولسوالی په تازوکان کلي کې د ۵۳۰ مترو په اوږدوالي د اوبو لګولو د کانال د پروژې کار ۸۰ سلنه مخ ته تللی دی.

د یادې پروژې د تطبیق پر مهال چې له ملي بودیجې تمویل شوې ۱۷۳٦ کاري ورځې رامنځته او د سیمې ۸۰۰۰ اوسیدونکي به له دغې پروژې ګټه پورته کوي. د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې په بشپړیدو به د سیمې ۸۸ جریبه کرنیزه ځمکه د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راشي.



## په پکتیکا ولایت کې د سپماګروپونو ۲۰۰ غړو ته د کرونا وایروس په اړه عامه پوهاوی ورکړ شو

۲٦غبرګولی ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د کوار مرستندویه موسسې په مرسته د پکتیکا ولایت په بیلا بیلو کلیو کې د ۳۰ سپماګروپونو ۲۰۰ غړو ته چې نارینه او مېرمنو تشکیلول، په سپماګروپونو کې د غړیتوب په اړه د لومړنیو روزنو ترڅنګ د وژونکي وایروس کرونا په اړه عامه پوهاوی ورکړل شو چې د یادو ګروپونو غړي وکولای شي، د ترلاسه شویو معلوماتو او لارښوونو په رڼا کې د راغلي وبا پر وړاندې د مخنیوي لپاره خپل لازم تدابیر ونیسي.

د یادونې وړ ده، چې په پکتیکا ولایت کې تر اوسه ۱۲۰ ښځینه او نارینه ګروپونه تشکیل شوي، چې له دوی څخه ۱۱۰ ګروپونو ته د پروګرام د سیمه ییزو کارکوونکو له‌خوا په سپماګروپ کې د غړیتوب مقدماتي روزنې ورکړل شوي او دا لړۍ دوام لري.




## په غور ولایت کې د ۳.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه بشپړه شوه

۲٦/ غبرگولی/ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي حفظ الصحې پروگرام له لوري د غور د لعل او سرجنگل ولسوالی په نوقیاق کلي کې د ۳.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه بشپړه شوه.

ددې پروژې په بشپړتیا سره ۷۳ کورنیو او د یوه ښوونځي زده کوونکو ته د څښاک پاکې او صحي اوبه چمتو شوې.

## په غزني کې د۱۳ گروپونو غړیو ته د کرونا ویروس په اړه لازم معلومات ترلاسه کړل

۲٦/غبرگولی/ ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروگرام د ۱۳ گروپونو غړو ته په غزني ولایت کې د کرونا وایروس پر وړاندې روغتیایي سپارښتنې او په دې وبا له اخته کېدو څخه د مخنیوي په اړه معلومات وړاندې شول.

یادو گروپونو کلي په کلي کور په کور د کمپاین د لومړي پړاو په ترڅ کې د کرونا وایروس په اړه په غزني ولایت کې د عامې روغتیا وزارت سپارښتنې چې په مکرر ډول په اوبو او صابون سره د لاسونو وینځل، د کورني وسایلو او سامان آلاتو د پاک ساتلو په موخه د عفوني ضد موادو کارول او تر ډېره بریده په گڼې گونې کې له گرځېدا څخه ډډه کول دي، د معلوماتو په توگه ترلاسه کړل.

د یادونې وړ ده چې په غزني ولایت کې له نویو جوړ شویو ۲٦۴ سپماگروپونو څخه ۱۸۳ گروپونو ته د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروگرام لهخوا د کوار موسسې په مرسته د کوویډ۱۹ وایروس په اړه پوهاوی ورکړل شو.





## په غور کې د یو میلیون افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې شبکې کار پیل شو

۲٦/ غبرگولی/ ۱۳۹۹

د د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي حفظ الصحې پروگرام له لوري د غور د لعل او سرجنگل ولسوالی په نو اوتاق کلي کې د یو میلیون افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې سولري شبکې جوړولو کار پیل شو.

ددې پروژې په بشپړتیا سره به ۴۰ کورنی د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاسرسی بیامومي.

# په پکتیا ولایت کې د اوبو رسولو دوې شبکې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

۲۵ غبرګولی ۱۳۹۹

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروګرام له لوري د ۳.۹ میلیونه افغانیو په لګښت سره چې د یونیسف ادارې لخوا ورکړل شوې، د پکتیا ولایت د احمدآباد ولسوالۍ په سرکي ملنګ روغتیايي مرکز او د ځاځي آریوب ولسوالۍ په بره شګه سیمه کې د اوبو رسولو دوې لمریزې شبکې جوړې او د خايي خلکو ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د څښلو د اوبو په لومړۍ شبکه چې د کلینیک لپاره جوړه شوه، نیم میلیون افغانۍ ولګېدې چې د یوې ژورې څاه کیندل، د دوو لمریزو بښبو (سولرونو) نصبول، د څلورو نلکو نصبول او د څلور تشنابونو بیارغول په کې شامل وو.

د اوبو رسولو په دویمه شبکه چې په بره شبګه سیمه کې جوړه شوه، ۳.۴ میلیونه افغانۍ لګښت راغی، چې د یوې ژورې څاه کیندل، د اوبو د کانکریټي ذخیرې جوړول، د ۵۰ لمریزو تختو، ۲۵ نلکو او د پایپونو ۳۰۰ متره اوږدې شبکې نصبول په کې شامل وو.

د اوبو رسولو د یادو شویو شبکو په تکمیلیدو سره د احمد آباد د ولسوالۍ د سرکي ملنګ کلینک او د ځاځي آریوب ولسوالۍ د برې شګې سیمې د شاوخوا ۳۰۰ کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې.



# خوست ولایت کې د ۱۰۰۰ ماسکونو ویش او د کرونا وایروس په اړه عامه پوهاوی ترسره شو

۲۸غبرګولی ۱۳۹۹

د خوست ولایت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام کارکوونکو د دې ولایت په اسمعیل خېلو، مندوزیو ولسوالیو او مرکز کې د سپما ۸٦ ګروپونو او د پور او سپما ۳۰کلیوالي اتحادیو، ټولو ۱۰۰۰ غړو ته د بېلا بېلو غونډو په ترڅ کې د کرونا وایروس په اړه عامه پوهاوی او همداراز د هغو وطني تولید شویو ماسکونو ویش ترسره کړ، چې دACTED موسسې لهخوا په وړیا ډول د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام سویل ختیځ زون خوست دفتر سره یې مرسته شوې وه.

د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام کارکوونکي د روغتیا وزارت د لارښوونو په اډانه کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د لارښوونو سره سم په منظم ډول د کرونا وایروس په اړه عامه پوهاوی ترسره کوي، چې دغه چاره د کرونا وایروس د لا خپرېدو د مخنیوي په برخه کې ګټوره تمامه شوې.





## په ارزگان کې ۳۸٦ کليوالي کورنيو ته د ښښاک پاکې اوبه برابرې شويدي

۱۳۹۹/غبرگولی/۲۷

د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د ولسي تړون ملي پروگرام لـه لـوري د ارزگان د ترينکوټ ولسوالی اړونـد د خيـرو کاريـز کلي د پراختيايـي شـورا لـه خـوا د څـه بانـدې د ۲ ميليونـه او ۹۰۰ زره افغانيو پـه لگښـت د څښـاک د پاکو اوبـو د ۲ شبکو د جوړولو کار د يو کال پـه موده کې بشپړ اوگټـې اخيسـتنې تـه وسـپارل شـو.

دا پـروژې چـې ۱۲ نلکـې لـري، د کار پـه بهيـر کــې يــې ماهــرو او غيــرو ماهــرو کاريگــرو تــه ۱۷۷۱ کاري ورځـې را منځتـه شـوې، د يادونـې وړ ده چې د نومـوړو شـبکو پـه جوړيـدو د ۳۸٦ کورنيـو ۳۰۴۰ تنـه غړيـو تـه د څښـاک پاکـې اوبـه برابـرې شـوې.

## د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د پلان اوپاليسۍ او سر شميرنې رييسان او دپروگرامونو سلاکار معرفي شول

۲۷/ غبرگولی/ ۱۳۹۹

د کليـو بيـا رغونـې اوپراختيـا وزيـر ښـاغلي پوهنـدوی مجيـب الرحمـن کريمـي د سـه شـنبې پـه ورځ (۲۷ غبرگولـی) د يـاد وزارت پـه اداري غونـډه کـې د پـلان اوپاليسـۍ او سر شـميرنې او معلومـاتي سيسـتمونو نـوي رييسـان او د يـاد وزارت د پروگرامونونـوی سـلاکار معـرفي کـړل.

پـه دغـه غونـډه کـې شـاهپور عبدالرحيـم زی چـې لـه دې وړانـدې يـې د کليـو بيـا رغونـې اوپراختيـا وزارت د دفـتر رييـس پـه توگـه دنـده تـر سره کولـه، د پـلان او پاليسـۍ دنـوي عمومـي رييـس، اکـرام اللـه قريـشي د معلومـاتي ټکنالـوژۍ ماسـټر د معلوماتي سيسـتمونو او سرشـميرنې رييـس، رحمـت اللـه قريـشي د کليـوالي اقتصـاد د پياوړتيـا او پرمختيـا ملي پروگـرام پخوانـی رييـس د پروگرامونـو سـلاکار اوشريـف علـی زی د وزارت د پروگرامونـو دمعينيـت کارپـوه وگـمارل شـول.

ښـاغلي کريمـي وويـل، نـوي رييسـان د ملکـي خدمتونـو اواداري اصلاحاتـو کميسـيون لـه خـوا د ازادې سـيالۍ پـه پايلـه کـې دنـدو تـه بريـالي شـوي چـې پـه چـارو کـې يـې ورتـه د برياليتوبونـو هيلـه وکـړه.

پـه دې غونـډه کـې د کليـو بيارغونـې او پراختيـا وزيـر د کرونـا ناروغـۍ د خپريـدو او قرنطيـن پـه مـوده کـې د وزارت د کارکوونکـو لـه کارونـو خوښـي څرگنـده کـړه او ددغـه چـارو دلا ښـه کيـدا پـه موخـه يـې نـوې سپارښـتنې وکـړې.







## په ننگرهار کې د ۱۲.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت دیوه استنادي دیوال هوکړه لیک لاسلیک شو

۲۸/ غبرگولی/۱۳۹۹

د کليـو بيارغونـې او پراختيـا وزارت د سـيمه ييـزې پراختيـا پروگـرام لـه بوديجـې څخـه د ۱۲،۳ ميليونـه افغانيـو پـه ارزښـت د ننگرهار کليـو بيارغونـې او پراختيا رياسـت او د پچيـراگام ولسـوالۍ د سرې کلا مياگانـو شـورا ترمنځ د پچيـراگام ولسـوالۍ د سرې کلا مياگانو پـه سـيمه کـې د يـوه سربنـد او د ۵۱۸ مـتره اسـتنادي ديـوال هوکـړه ليـک لاسـليک شـو.

چـې نـږدې ۳۵۰ جريبـه کرنيـزو ځمکـو تـه د خړوبولـو اسـانتيا برابـروي، او دغـه راز لسـگونه جريبـه ځمکـه د سـيلابونو لـه گـواښ څخـه ژغـوري.

ددې ديـوال او سربنـد پـه جوړيـدو سره به دځايي خلکو د ځمکـو پـه کرنيـزو حاصلاتـو کـې د پـام وړزياتوالـی راشي.



## په بدخشان کې د یوه محافظوي د یوال په جوړېدو سره ۱۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه د سیلاوونو له ګوابنه وژغورل شوه

۱۳۹۹/غبرګولی/ ۲۷

د کلیو د بیارغونې او پرختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري په بدخشان ولایت کې د یوه محافظوي دیوال په جوړېدو سره ۱۰۰ کورنیو شاوخوا ۱۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه اوبنونه د سیلاوونو له ګواښ نه ژغورل کیږي. دغه محافظوي دیوال ۱۲۹ متره اوږدوالی او ۴،۳ متره لوړوالی لري چې د پروژې د کار په بهیر کې فني اوغیر فني کاریګرو ته ۱۸۵۱ کاري ورځې رامنځته شویدي. نوموړی د یوال چې ۲ میلیون افغانۍ پرې لګښت راغلی او د خلکو لس سلنه ونده هم پکې شامله ده د بدخشان ولایت د فیض آباد ولسوالی اړوند د باغ مبارک کلي د پراختیایي شورا لخوا یې کاربشپړ شویدی.

## کندهار کې د ۸.۷ میلیونه افغانیو په لګښت د ۳۳.۴۱ کیلو واټه لمریزې بریښنا د تولید د شبکې کار روان دې

۱۳۹۹/غبرګولی/۲۷

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د کندهار ولایت په سپین بولدک ولسوالی کې د الله داد پراختیایي شورا له لوري د لمر یزې بریښنا د شبکې د جوړولو کار روان دی. د غه شبکه د ۸ میلیونه او ۷ سوه زره افغانیو په لګښت جوړیږي چې لس سلنه د خلکو ونډه هم پکې شامله ده. په دې شبکه کې ۱۷۴ تختې ۳۰۰ واټه سولري هینداري او ۲۰۰ امپیره ۱۰۴ بطریو پر نصب سربیره ۴۶۰۰ متره المونیمي تار غځیدلی دی. د دغه پروژې د جوړیدو په بهیر کې د ماهرو او غیر ماهرو کاریګرو لپاره به ۴۲۶ کاري ورځې رامنځته شي. د یادونې وړ ده چې د دې پروژې په بشپړیدو سره به ۲۸۴ کورنۍ ترینه ګټه واخلي.



## په هرات کې تر ټولو اوږد ۳۵۰۰ متره کانال کیندل کیږي

۱۳۹۹/غبرګولی/ ۲۷

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د هرات ولایت په زنده جان ولسوالی کې د اوبو لګولو د ۳۵۰۰ متره اوږد کانال د کیندلو کارپیل شو. په دغه کانال ۴۵ میلیونه افغانۍ لګښت راځي چې د زنده جان ولسوالی اړوند د ۱٦ پراختیایي شوراګانو په وسیله یې کار پرمخ وړل کیږي. دا کانال د ٦ زره هکتاره ځمکې د خړوبولو ظرفیت لري چې د نوموړې ولسوالی شاوخوا ۴۰ زره کورنۍ به ترینه برخمنې شي. دا د هرات ولایت په کچه داوبو لګولو لومړی کانال دې چې د ۱٦ پراختیایي شورا ګانو لخوا کیندل کیږي او د نوموړو شوراګانو ټول غړې به د هغه د کار د بهیر څارنه وکړي. همدارنګه د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام چارواکي وایي چې دا د هرات ولایت په کچه لوی کانال دې چې ددې برنامې لخوا کیندل کیږې. د یادونې وړ ده چې نوموړي کانال په یوه ثانیه کې د ۱۰ متره مکعبه اوبو د جریان توان لري چې د زنده جان ولسوالی اوسیدونکو ته به د کرنې او اوبو لګولو په برخه کې زیاتې آسانتیاوې رامنځته کړي.



## په سر پل کې ۱۵۹ کلیوالي کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شویدي

۱۳۹۹/غبرګولی/۲۷

د کلیو بیارغونې اوپراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام په وسیله د سرپل ولایت مرکز اړوند په بغاوي ازبکیه کلي کې ۱۵۹ کلیوالي کورنیو لپاره د څښاک پاکو اوبو ته د لاسرسی زمینه برابره شوه. نوموړې شبکه چې شاوخوا ۱ میلیون او ۴۵۵ زره افغانې پرې لګښت راغلی د ۱۵٦۷ متره اوږدوالي په لرلو سره، د اوبو د یوې زیرمې او د ۸ نلکو لرونکې ده چې بشپړه او ګټې اخستنې ته سپارل شویده. د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې د کار په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګروته ۹۳۴ کاري ورځې برابرې شویدي.

# په کونړ کې د بولډروال د پروژې کار روان دی

۲۷ / غبرګولی / ۱۳۹۹

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري په کونړ ولایت کې د سیند د اوبو د مهارولو د پروژې کار ۸۰ سلنه مخ ته تللی دی.

د دغې پروژې په ترڅ کې د یاد ولایت په بیلابیلو ولسوالیو کې د کونړ سیند شا او خوا پرتو کلیو او کروندو ته د زیان د رسیدو د مخنیوي په موخه بولډر ډوله محافظوي دیوال جوړیږي.

د یادې پروژې په بشپړیدو سره به نه یوازې ویجاړه شوې ۳۶۰۰ هکتاره کرنیزه ځمکه چې ۲۷ میلیارد افغانۍ اقتصادي ارزښت لري او د سیند د ملنې د پراخیدو له امله شاړه شوې بیرته په آبي لومړۍ درجه ځمکه واوړي بلکې دغه پروژه به چې بشپړیدو ته نږدې شوې په سیمه کې د ۱۰,۰۰۰ او ۱۵,۰۰۰ تر منځ د اوږدمهاله کاري بوختیاوو د چمتو کولو تر څنګ د مالدارۍ د کار او بار غوړیدا، مصنوعي ځنګلونو او ستروس ډوله بڼونو د جوړیدو لپاره هم لار پرانیزي.



د کونړ پر سیند د محافظوي جوړیدونکي دیوال د پیل شوې پروژې په لړ کې نږدې درې نیم سوه زره کاري ورځې رامنځته کیږي چې په بشپړیدو به یې نږدې دوه نیم سوه زره اوسیدونکي ترې ګټه پورته کړي.

په هیواد کې د بهیدونکو اوبو مدیریت او ترې سالمه ګټه اخیستنه هغه لومړیتوب دی چې حکومت یې په اړه خان ژمن ګڼي. له همدې امله د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د کونړ د سیند په دواړو اړخونو کې د بولډر ډوله استنادي دیوال د جوړیدو لپاره ملا تړلې څو پدې توګه نه یوازې د دغه سیند د طغیاني کیدو له امله د سیند په شا او خوا کې پرتو کرنیزو ځمکو او کورونو ته د زیان د ور رسیدو مخه نوره ونیول شي بلکې لدغو اوبو څخه به د چاپیریال د خوندي کیدو او د ځایي اوسیدونکو د اقتصاد د پیاوړي کیدو په لار کې هم کار واخیستل شي.

کونړ د هیواد یو له غرنیو ولایتونو څخه دی چې شا او خوا ۲٤٦۰۰ هکتاره کرنیزه ځمکه لري. اواره ځمکه یې د درو په منځ کې پرته ده، د سیند میلان یې ډیر دی له همدې امله د اوبو د ډیریدو په موسم کې شا او خوا سیمو ته زیان ور اړوي.

# د پکتیا ولایت ګردیز او احمد ابا ولسوالۍ کې د کرونا وایروس په اړه د عامه پوهاوي کمپاین ترسره شو

۲۸غبرګولی ۱۳۹۹

د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام ، د خپلو سپماګروپونو او اتحادیو د جوړولو او نورو اړوندو فعالیتونو تر څنګ د کرونا وژونکي وایروس په اړه د عامه پوهاوي پراخ کمپاینونه او ټرېننګونه په ګردیز او احمد ابا ولسوالۍ کې تر سره کړل.

د تېر په څېر د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام کارکوونکي ، د شکرخېلو شورا د همت، سولې او همداراز د مهلن دوابه شورا د سپماګروپونو او اتحادیو له غړو سره د کرونا وایروس د مخنیوي په لارو چارو غږیدلي او هغه ماسکونه چې د ACTED موسسې لهخوا د پروګرام له دفتر سره مرسته شوې، په هغوی یې ویشلي دي.

د یادونې وړ ده، چې په پکتیا ولایت کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام فعالیتونه د ACTED همکارۍ موسسې لهخوا پرمخوړل کیږي.

